**دافغانستان اسلامی جمهوریت**

**دعدلیی وزارت**

# رسمی جریده

**فوق العاده گڼه**

- دتحصیلی سندونو دارزونی مقرره
- دشپی لــوړو زده کـــړومقـــرره
- مقرره ارزیابی اسناد تحصیلی
- مقرره تحصیلات عالی شبانه

**دخپریدو نیټه د ۱۳۹۰ هـــ.ش کال دلیندی دمیاشتی ( ۱٦) پرله پسی نمبر (۱۰٦٦)**

**تاریخ نشر : ( ۱٦)قوس سال ۱۳۹۰ هـــ. ش نمبرمسلسل (۱۰٦٦)**

**در این شماره :**

۱- مقرره ارزیابی اسناد تحصیلی از صفحه (۱- ۱۴)

۲- مقرره تحصیلات عالی شبانه از صفحه (۱۵-۳۰)

**د امتیاز خاوند : دعدلیی وزارت**

مسؤل چلوونکی : قانونمل محمدرحیم "دقیق"

۰۷۰۰۵۸۷۴۵۷

ددفتر تیلفون : ۲۱۰۳۳۷۵

مرستیال : نور علم ۰۷۰۰۱۴۷۱۷۸

مهتمم: محمدجان ۰۷۰۰۳۹۵۲۹۲

ویب سایت : www.moj.gov.af

**قیمت این شماره : ........................................(۳۰) افغانی**

**تیراژ چاپ اول :..........................................(۴۰۰۰)جلد**

**آدرس :وزارت عدلیه ، ریاست نشرات ، چهارراهی پشتونستان ، کابل**

## دتحصيلي سندونو د ارزونې دمقررې دنافذېدو په هکله، دافغانستان داسلامي جمهوريت دوزيرانو شورې مصوبه

ګڼه : (۲۸)

نېټه: ۱۳۹۰/۷/۲۵

دتحصيلي سندونو د ارزونې مقرره چې دافغانستان اسلامي جمهوريت دوزيرانو شوري د ۱۳۹۰/۷/۲۵ نېټې په غونډه کې، په (۴) فصلونو او (۱۹) مادو کې تصويب شوې ده، منظوروم.

دغه مصوبه له مقررې سره يو ځای ، په رسمي جريده کې د خپرېدو له نېټې څخه نافذېږي.

حامد کرزی

دافغانستان داسلامي جمهوريت رئيس

## مصوبهٔ شورای وزيران جمهوری اسلامی افغانستان در مورد انفاذ مقررهٔ ارزيابی اسناد تحصيلی

شماره : (۲۸)

تاريخ : ۱۳۹۰/۷/۲۵

مقررهٔ ارزيابی اسناد تحصيلی را که درجلسهٔ مؤرخ ۱۳۹۰/۷/۲۵ شورای وزيران جمهوری اسلامی افغانستان به داخل (۴) فصل و(۱۹) ماده تصويب گرديده، منظور می دارم.

اين مصوبه همراه با مقرره از تاريخ نشر درجريدهٔ رسمی نافذ می گردد.

حامد کرزی

رئيس جمهوری اسلامی افغانستان

## فهرست مندرجات

## مقررۀ ارزیابی اسناد تحصیلی

## فصل اول

## احکام عمومی


| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادۀ اول: | منظور وضع | ۱ |
| مادۀ دوم: | اصطلاحات | ۱ |


## فصل دوم

## کمیسیون عالی ارزیابی اسناد تحصیلی


| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادۀ سوم: | کمیسیون | ۳ |
| مادۀ چهارم : | انتخاب رئیس ومعاون کمیسیون | ۴ |


## فصل سوم

## شرایط ارزیابی اسناد تحصیلی


| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادۀ پنجم : | ارزیابی اسناد تحصیلی | ۵ |
| مادۀ ششم : | تثبیت معادلت | ۵ |
| مادۀ هفتم : | ارایۀ اسناد تحصیلی به کمیسیون | ۷ |
| مادۀ هشتم : | اصل سند تحصیلی ویا ترانسکرپت | ۸ |
| مادۀ نهم : | مثنی سند تحصیلی | ۹ |
| مادۀ دهم : | عدم ارزیابی سند تحصیلی مؤسسات تحصیلات عالی داخل کشور | ۱۰ |
| مادۀ یازدهم : | ارزیابی سند به منظور ادامۀ تحصیل | ۱۰ |
| مادۀ دوازدهم : | سند تحصیلی عالی نیمه حضوری و غیرحضوری | ۱۱ |
| مادۀ سیزدهم : | معطلی اعطای سند تحصیلی | ۱۱ |
| مادۀ چهاردهم : | ارزیابی مجدد | ۱۲ |
| مادۀ پانزدهم : | تجدید نظر | ۱۲ |

## فصل چهارم

## احکام متفرقه

مادۀ شانزدهم : تزویر سند تحصیلی ..........................................۱۳
مادۀ هفدهم : حق الخدمت................................................۱۳
مادۀ هجدهم : حق الحضور .................................................. ۱۴
مادۀ نزدهم : انفاذ ........................................................... ۱۴

## د تحصيلي سندونو د ارزونې

## مقرره

## لومړی فصل

## عمومي حکمونه

**د وضع کولو منظور**

**لومړۍ ماده:**

دغه مقرره له هېواد څخه بهر د لوړو زده کړو د مؤسسو د تحصيلي سندونو په ارزونې پورې د اړوندو چارو د تنظيم په منظور وضع شوې ده.

**اصطلاحګانې**

**دوه يمه ماده:**

پدې مقرره کې راتلونکې اصطلاحګانې لاندې مفاهيم افاده کوي:

۱- تحصيلي سند: هغه سند دی چې د يوې بشپړې تحصيلي دورې له برياليتوب وروسته له علمي رشتو څخه په يوه کې د لېسانس، ماسترۍ يا دوکتورا په درجې سره د حضوري، نيمه حضوري يا غيرحضوري تحصيل په ډول، له هېواد څخه بهر د لوړو زده کړو د مؤسسې

## مقررهٔ ارزيابی اسناد

## تحصيلی

## فصل اول

## احکام عمومی

**منظور وضع**

**مادهٔ اول:**

اين مقرره به منظور تنظيم امور مربوط به ارزيابی اسناد تحصيلی مؤسسات تحصيلات عالی خارج از کشور وضع گرديده است.

**اصطلاحات**

**مادهٔ دوم:**

اصطلاحات آتی دراين مقرره مفاهيم ذيل را افاده می نمايد:

۱- سند تحصيلی: سندی است که بعد از اتمام مؤفقانهٔ يک دورهٔ کامل تحصيلی به درجهٔ لسانس ، ماستری ويا دوکتورا در يکی از رشته های علمی به شکل تحصيل حضوری، نيمه حضوری ويا غير حضوری، از جانب مؤسسهٔ تحصيلات عالی خارج از کشور رسماً به شخص

لخوا رسماً شخص ته ورکول شوی وي.

۲- حضوري تحصيل: هغه تحصيل دی چې محصل په ټولګي کې په هر سمسترکې د هر کرېډت لپاره په لږترلږهٔ لس ساعته حضور سره، تحصيلي برنامې تعقيب او په عملي او تطبيقاتي کارونوکې يې ګډون کړی وي.

۳- نيمه حضوري تحصيل: هغه تحصيل دی چې محصل په ټولګي کې په هر سمسترکې د هرکرېډت لپاره په لږترلږهٔ څلور ساعته حضور سره، تحصيلي برنامې تعقيب او په عملي او تطبيقاتي کارونوکې يې ګډون کړی وي.

۴- غيرحضوري تحصيل: هغه تحصيل دی چې محصل په ټولګي کې په هر سمسترکې د هرکرېډت لپاره له څلورو ساعتونو څخه په لږ حضور سره، تحصيلي برنامه تعقيب کړې وي.

اعطاء گرديده باشد.

۲- تحصيل حضوری: تحصيلی است که محصل با حد اقل ده ساعت حضور در صنف در هرسمستر برای هرکريدت، برنامه های تحصيلی را تعقيب و درکارهای عملی وتطبيقاتی شرکت نموده باشد .

۳- تحصيل نيمه حضوری : تحصيلی است که محصل با حداقل چهار ساعت حضور در صنف درهر سمستر برای هرکريدت، برنامهٔ تحصيلی را تعقيب و درکارهای عملی وتطبيقاتی شرکت نموده باشد.

۴-تحصيل غيرحضوری: تحصيلی است که محصل با کمتر از چهار ساعت حضور در صنف در هر سمستر برای هرکريدت، برنامهٔ تحصيلی را تعقيب نموده باشد.

## دوه يم فصل

## د تحصيلي سندونو د ارزونې عالي کمېسيون

### کمېسيون

**درېيمه ماده:**

(۱)له هېواد څخه بهر د لوړو زده کړو د مؤسسو د تحصيلي سندونو د ارزونې په منظور د تحصيلي سندونو د ارزونې عالي کمېسيون ، د لوړو زده کړو د وزارت په چوکاټ کې د تصميم نيونې د تر ټولو لوړې مرجع په توګه رامنځته کېږي او لدې وروسته پدې مقرره کې د کمېسيون په نوم يادېږي.

(۲) کمېسيون، د علومو په مختلفو څانګو کې د دوکتورا يا ماسترۍ په تحصيلي درجه د پوهنتونونو له نهو تنو استادانوڅخه چې له تحصيلي سيستمونو سره بلدتيا ولري، مرکب دی.

(۳) د کمېسيون غړي د لوړو زده کړو د وزير په وړانديز او د جمهوري رياست د مقام په منظورۍ د درېو کلونو مودې لپاره ټاکل کېږي، د کمېسيون غړي يوازې

## فصل دوم

## كميسيون عالی ارزيابی اسناد تحصيلی

### كميسيون

**مادۀ سوم:**

(۱) به منظور ارزيابی اسناد تحصيلی مؤسسات تحصيلات عالی خارج از كشور، كميسيون عالی ارزيابی اسناد تحصيلی منحيث عالی ترين مرجع تصميم گيری در چوكات وزارت تحصيلات عالی ايجاد ومنبعد در اين مقرره به نام كميسيون ياد می گردد.

(۲)كميسيون مركب از نه نفر استادان پوهنتون ها با درجۀ تحصيلی دوكتورا ويا ماستری از رشته های مختلف علوم كه به سيستم های تحصيلی آشنايی داشته باشند، می باشد.

(۳)اعضای كميسيون به پيشنهاد وزير تحصيلات عالی ومنظوری مقام رياست جمهوری برای مدت سه سال تعيين می گردند ، اعضای كميسيون صرف برای

دیوې بلې دورې لپاره بیا ټاکل کېدای شي.

(۴) که چېرې د کمېسیون په ترکیب کې د تحصیلي سند د ارزونې په وخت کې، د اړوندې تحصیلي څانګې استاد موجود نه وي، له نوموړې څانګې څخه د پوهاند په علمي رتبې سره، د دوکتورا یا ماستری د تحصیلي درجې لرونکی یو استاد د نظر د وړاندې کولو لپاره کمېسیون ته بلل کېږي.

(۵) که چېرې د کمېسیون غړی وفات شي یا استعفاءوکړي یا په صعب العلاجه ناروغۍ اخته شي او یا د محکمې په قطعي حکم په حبس محکوم شي، د هغهٔ په عوض د شرایطو لرونکی بل شخص ټاکل کېږي.

## د کمېسیون د رئیس او مرستیال ټاکل

**څلورمه ماده:**

(۱)د کمېسیون رئیس او مرستیال په لومړنۍ غونډه کې د غړو له منځ څخه د یوکال مودې لپاره د رأیو په اکثریت ټاکل کېږي.

یک دورهٔ دیگر مجدداً تعیین شده می توانند.

(۴) هرگاه حین ارزیابی سند تحصیلی در ترکیب کمیسیون،استاد رشتهٔ تحصیلی مربوط موجود نباشد ، ازیک استاد دارای درجهٔ تحصیلی دوکتورا ویا ماستری با رتبهٔ علمی پوهاند از رشتهٔ مذکور جهت ابراز نظربه کمیسیون دعوت می گردد .

(۵) هرگاه عضو کمیسیون وفات یااستعفاء نماید یابه مریضی صعب العلاج مبتلا گردد ویا به حکم قطعی محکمه به حبس محکوم شود به عوض وی شخص دیگر واجد شرایط تعیین می گردد.

## انتخاب رئیس ومعاون کمیسیون

**مادهٔ چهارم :**

(۱) رئیس ومعاون کمیسیون در اولین جلسه از میان اعضاء برای مدت یک سال به اکثریت آرأ انتخاب می گردد.

(۲) د کمېسيون اداري چارې د لوړو زده کړو وزارت د اکادميکو چارو د انسجام د ادارې په واسطه تنظيمېږي.

(۳) د کمېسيون د کار او فعاليت ډول د جلا کړنلارې په واسطه تنظيمېږي.

## درېيم فصل

## د تحصيلي سندونو د ارزونې شرايط

**د تحصيلي سندونو ارزونه**

**پنځمه ماده:**

کمېسيون، د لوړو زده کړو د مؤسسو تحصيلي سندونه د يونسکو د اکادميکو معيارونو، د علمي- اکادميکو تفاهم ليکونو چې افغانستان له هېوادونو او بين المللي سازمانونو سره لاسليک کړي او د نافذو تقنيني سندونو مطابق ارزوي.

**د انډولتيا تثبيت**

**شپږمه ماده:**

(۱) د لوړو زده کړو د مؤسسو تحصيلي سند له لاندې درجو څخه په يوې سره تأييدېږي يا يې انډولتيا تثبيتېږي:

(۲) امورادارى كميسيون توسط ادارۀ انسجام امور اكادميک وزارت تحصيلات عالى، تنظيم مى گردد.

(۳)طرزكاروفعاليت كميسيون توسط طرزالعمل جداگانه تنظيم مى گردد.

## فصل سوم

## شرايط ارزيابى اسناد تحصيلى

**ارزيابى اسناد تحصيلى**

**مادۀ پنجم:**

كميسيون،اسناد تحصيلى مؤسسات تحصيلات عالى را مطابق معيارهاى اكادميک يونسكو، تفاهم نامه هاى علمى – اكادميک كه افغانستان با كشور ها وسازمان هاى بين المللى امضاء نموده و اسناد تقنينى نافذ ارزيابى مى نمايد .

**تثبيت معادلت**

**مادۀ ششم:**

(۱)سند تحصيلى مؤسسات تحصيلات عالى به يكى ازدرجات ذيل تأييد ويا تثبيت معادلت مى گردد:

۱- د لېسانس ديپلوم ( د لوړو زده کړو لومړنی سند) د درسي نصاب د واحدونو د بشپړېدو او د ثانوي دورې د زده کړو له پای ته رسېدو وروسته لږترلږه د درې کاله تحصيل په صورت کې.

۲- د ماسترۍ ديپلوم (د لوړو زده کړو دوه يم سند) د درسي نصاب د واحدونو د بشپړېدو او د لېسانس د دورې د تحصيل له پای ته رسېدو وروسته لږترلږه دیوهٔ کال تحصيل په صورت کې.

د ماسترۍ په درسي واحدونوکې د تيزس کار او د کورسونو تعقيب يا يوازې يو له هغوڅخه شاملېږي.

۳- د دوکتورا ديپلوم ( د لوړو زده کړو دريیم سند) د درسي نصاب د واحدونو د بشپړېدو په صورت کې او د ماسترۍ د دورې د تحصيل له پای ته رسېدو وروسته لږترلږه دوه کاله تحصيل.

د دوکتورا په درسي واحدونوکې دتيزس کار او د کورسونو تعقيب يا يوازې يو له هغوڅخه شاملېږي.

(۲) که چېرې په اړوند تحصيلي نظام کې دماسترۍ او دوکتورا د ديپلوم اخيستل د

۱- ديپلوم لسانس ( اولين سند تحصيلات عالی ) درصورت تکميل واحد های نصاب درسی و حداقل سه سال تحصيل بعد از ختم تعليمات دورهٔ ثانوی.

۲- ديپلوم ماستری( دومين سند تحصيلات عالی) درصورت تکميل واحد های نصاب درسی و حداقل يک سال تحصيل بعد از ختم تحصيل دورهٔ لسانس.

واحد های درسی ماستری شامل کارتيزس وتعقيب کورس ها يا صرف يکی از آنها بوده می تواند.

۳- ديپلوم دوکتورا (سومين سند تحصيلات عالی) در صورت تکميل واحدهای نصاب درسی و حداقل دوسال تحصيل بعد ازختم تحصيل دورهٔ ماستری.

واحد های درسی دوکتورا شامل کار تيزس وتعقيب کورس ها يا صرف يکی از آنها بوده می تواند.

(۲) هرگاه در نظام تحصيلی مربوط اخذ ديپلوم ماستری ودوکتورا بدون دورهٔ

دمخه تحصیل د دورې پرته مجاز وي ، دمعادلت په تثبیت کې د دواړو دورو دکلونو او واحدونو بشپړېدل په پام کې نیول کېږی .

(۳) افتخاري ډیپلوم او د لېسانس له درجې ځخه کښته تحصیلي سند په کمېسیون کې نه ارزول کېږي.

## کمېسیون ته د تحصیلي سندونو وړاندې کول

اوومه ماده:

(۱) د تحصیلي سند لرونکی مکلف دی، لاندې سندونه د ارزونې لپاره کمېسیون ته وړاندې کړي:

۱–غوښتنلیک او ډکه شوې فورمه.

۲– دتحصیلي سند اصل.

۳– د تحصیلي سند ورکوونکي هېواد د اعتبار ورکونې د مرجع او د بهرنیو چارو د وزارت تصدیق او د افغانستان د سیاسي نمایندګی تأیید او د هېواد د بهرنیو چارو وزارت تصدیق.

۴– د هر سمستر په تفکیک سره د تحصیلي دورې په کریکولم کې د

تحصیل ماقبل مجاز باشد، تکمیل سالها و واحدهای هردو دوره درتثبیت معادلت مدنظرگرفته می شود.

(۳) دیپلوم افتخاری و سند تحصیلی پایین تر از درجۀ لسانس در کمیسیون ارزیابی نمی شود .

## ارایۀ اسناد تحصیلی به کمیسیون

مادۀ هفتم:

(۱)دارندۀ سند تحصیلی مکلف است، اسناد ذیل را جهت ارزیابی به کمیسیون ارایه نماید:

۱– در خواست وفورمۀ خانه پری شده.

۲– اصل سند تحصیلی.

۳– تصدیق مرجع اعتبار دهی و وزارت امورخارجۀ کشوراعطاءکنندۀ سندتحصیلی وتأیید نمایندگی سیاسی افغانستان و تصدیق وزارت امور خارجۀ کشور.

۴– اصل یاکاپی فهرست نمرات مضامین شامل کریکولم دورۀ تحصیلی به

شاملومضمونونو د نمرو د فهرست اصل يا کاپي. د ماسترۍ او دوکتورا تحصيلي دوره چې د کورسونو تعقيب پکې شامل نه وي، لدې حکم څخه مستثني ده.

۵-د ماسترۍ او دوکتورا د تحصيلي دورو لپاره د تيزس د دفاع د تصديق وړاندې کول. په هغۀ صورت کې چې د ماسترۍ د تحصيل دوره د تيزس په دفاع کې شامله نه وي، لدې حکم څخه مستثني ده.

٦- د تابعيت تذکره، د بهرنيو اتباعو لپاره پاسپورت.

(۲) که چېرې ددې مادې د (۱) فقرې په (۳) جزءکې د درج شوي حکم تطبيق ممکن نه وي، د اعتبار ورکونې او لوړو زده کړو د اړوندې مؤسسې سايټ ته په مراجعې او د رسمي ليک په استولو سره مطلب حل کېږي.

## د تحصيلي سند يا ترانسکرپټ اصل

اتمه ماده:

د ارزونې لپاره د تحصيلي سند کاپي نه منل کېږي.

تفکيک هرسمستر. دورۀ تحصيلی ماستری ودوکتوراکه شامل تعقيب کورس ها نباشد از اين حکم مستثنی است.

۵- ارايۀ تصديق دفاع تيزس برای دوره های تحصيلی ماستری و دوکتورا.در صورتی که دورۀ تحصيل ماستری شامل دفاع تيزس نباشد از اين حکم مستثنی است .

٦- تذکرۀ تابعيت، پاسپورت برای اتباع خارجی .

(۲) هرگاه تطبيق حکم مندرج جزء (۳) فقرۀ (۱) اين ماده ممکن نباشد ، بامراجعه به سايت مؤسسۀ اعتبار دهی وتحصيلات عالی مربوط وارسال نامۀ رسمی حل مطلب می گردد.

## اصل سند تحصيلی ويا ترانسکرپت

مادۀ هشتم:

کاپی سند تحصيلی جهت ارزيابی پذيرفته نمی شود.

په هغهٔ صورت کې چې د تحصیلي سند یا ترانسکرپت اصل او یا د هغــو د دواړو اصل شتون ونه لري، کمېسیون کــولای شي د اعتبار ورکونې اړوندې مؤسسې او د لوړو زده کړو دمؤسسې سایټ ته پــه مراجعې سره او یا دسند د ورکـــوونکې لوړو زده کړو دمؤسسې پــه واســطه د تحصیلي سند دکاپي داعتبــار د تأییــد پربنسټ چې ددې مقررې د اوومې مادې د (۱) فقرې په (۳) جزءکې د درج شوو مراجعو لخوا تصدیق او تأیید شوی وي، مطلب حل کړي.

در صورتی که اصل ســند تحــصیلی یا ترانسکرپت ویا اصل هــر دوی آن موجود نباشد ، کمیسیون می تواند بــا مراجعه به ســایت مؤســسهٔ اعتبــار دهی مربــوط و مؤســسهٔ تحــصیلات عالی ویا به اساس تأیید اعتبــار کــاپی سند تحصیلی توسط مؤسسهٔ تحصیلات عــالی اعطــاء کننــدهٔ آن کــه از طــرف مراجــع منــدرج جــزء (۳) فقرهٔ (۱) مادهٔ هفتم این مقرره تصدیق و تأییــد شــده باشــد، حــل مطلــب نماید.

## د تحصیلي سند مثني

### نهمه ماده:

د ارزونې لپاره د تحصیلي سند او د هغهٔ د ترانسکرپت مثني، په هغهٔ صورت کې منل کېږي چې د هغهٔ اکادمیک اعتبار د سند د اصل داعتبار ورکونې په شــان، ددې مقررې د اتمې مادې د حکــم مطــابق تصدیق او تأیید شوی وي.

## مثنی سند تحصیلی

### مادهٔ نهم:

مثنی ســند تحــصیلی وترانــسکرپت آن،جهت ارزیابی درصورتی پذیرفته می شود که اعتبار اکادمیک آن مانند اعتبار دهی اصل سند مطــابق حکــم مــادهٔ هشتم این مقرره تصدیق وتأیید شده باشد.

## په هېواد کې دننه د لوړو زده کړو د مؤسسو د تحصیلي سند نه ارزول

**لسمه ماده:**

په هېواد کې دننه د دولتي او خصوصي لوړو زده کړو د مؤسسو تحصیلي سند په کمېسیون کې نه ارزول کېږي، خو داچې د هغه مشبوهیت د استخداموونکې ادارې لخوا مطرح شوی وي. پدې صورت کې دې د لوړو زده کړو وزارت هغه کمېسیون ته محول کړي.

## د تحصیل د ادامې په منظور د سند ارزونه

**یوولسمه ماده:**

له هېواد څخه بهر نا بشپړ تحصیلي مثبت سند چې د لوړو زده کړو د مؤسسې لخوا صادر شوی او په هغه کې مضمونونه، نمرې او د انفکاک مؤجه دلیلونه څرګند وي، یوازې د تحصیل د دوام په منظور، د ارزونې وړ دی.

## عدم ارزیابی سند تحصیلی مؤسسات تحصیلات عالی داخل کشور

**مادۀ دهم:**

سند تحصیلی مؤسسات تحصیلات عالی دولتی و خصوصی داخل کشور در کمیسیون مورد ارزیابی قرار نمی گیرد ، مگر اینکه مشبوهیت آن ازطرف ادارۀ استخدام کننده مطرح شده باشد .در این صورت وزارت تحصیلات عالی آنرا به کمیسیون محول نماید .

## ارزیابی سند به منظور ادامۀ تحصیل

**مادۀ یازدهم:**

سند مثبت تحصیلی نامکمل در خارج از کشور که از طرف مؤسسۀ تحصیلات عالی صادر گردیده و درآن مضامین، نمرات ودلایل مؤجه انفکاک واضح باشد، صرف به منظور ادامۀ تحصیل، قابل ارزیابی می باشد.

## نیمه حضوري او غیر حضوري عالي تحصیلي سند

**دوولسمه ماده:**

(۱)که چېرې نیمه حضوري او غیر حضوري تحصیلي سند د لوړو زده کړو د مؤسسې لخوا ورکول شوی وي، د جلا کړنلارو مطابق د کمېسیون په واسطه ارزول کېږي.

(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوي تحصیلي سند لرونکی د لوړو زده کړو د مؤسسې په علمي کادر کې نه منل کېږي.

## د تحصیلي سند د ورکولو ځنډېدل

**دیارلسمه ماده:**

که چېرې د لوړو زده کړو د اړوندې مؤسسې لخوا د تحصیلي سند ورکول د دولت د پالیسۍ او نورو دلیلونو پربنسټ ځنډول شوی وي،د تحصیلي سند د ترلاسه کولو پورې د فراغت او تحصیلي درجې تصدیق په مؤقته او مشروطه توګه د تحصیلي سند د اصل په وړاندې کولو سره، تثبیت او تأییدېږي. پدې صورت کې

## سند تحصیلی عالی نیمه حضوری و غیر حضوری

**مادۀ دوازدهم:**

(۱)هرگاه سند تحصیلی نیمه حضوری وغیر حضوری ازطرف مؤسسۀ تحصیلات عالی اعطاء شده باشد ، طبق طرزالعمل های جداگانه توسط کمیسیون ارزیابی می شود .

(۲) حایز اسناد تحصیلی مندرج فقرۀ (۱) این ماده در کادر علمی مؤسسۀ تحصیلات عالی پذیرفته نمی شود.

## معطلی اعطای سند تحصیلی

**مادۀ سیزدهم :**

هرگاه اعطای سند تحصیلی از طرف مؤسسۀ تحصیلات عالی مربوط به اساس پالیسی دولت وسایر دلایل معطل قرارداده شده باشد ، تصدیق فراغت ودرجۀ تحصیلی الی حصول سند تحصیلی طور مؤقت ومشروط به ارایۀ اصل سند تحصیلی ، تثبیت وتأیید می گردد .

د تحصيلي سند د مادي امتياز اجراء کول د هغهٔ د اصل تر وړاندې کولو پورې، ځنډول کېږي.

## بيا ارزونه

**څوارلسمه ماده:**

کمېسيون کولای شي، لاندې سندونه بيا و ارزوي:

۱- هغه سند چې مخکې ارزول شوی وي او سوابق يې د لوړو زده کړو وزارت په اړوندو دفترونو کې شتون و نه لري.

۲- هغه سند چې مخکې ارزول شوی وي، د هغهٔ د تزوير او مشبوهيت په اړه دليلونه او مدرکونه په لاس راشي.

۳-هغه سند چې مخکې ارزول شوی وي، د نفوذ د اعمال په اړه دليلونه او مدرکونه چې د قوانينو او مقرراتو په نقض يا نه په پام کې نيولو منجر شوي وي، وليدل شي.

## بيا کتنه

**پنځلسمه ماده:**

که چېرې د تحصيلي سند لرونکی، د کمېسيون په تصميم باندې قناعت و نه

در اين صورت اجرای امتياز مادی سند تحصيلی الی ارايهٔ اصل آن معطل می باشد .

## ارزيابی مجدد

**مادهٔ چهاردهم:**

کميسيون می تواند، اسناد ذيل را مجدداً ارزيابی نمايد:

۱- سندی که قبلاً ارزيابی گرديده و سوابق آن دردفاترمربوط وزارت تحصيلات عالی موجود نباشد.

۲- سندی که قبلاً ارزيابی گرديده ، دلايل ومدارک مبنی برتزويرو مشبوهيت آن بدست آيد.

۳-سندی که قبلاً ارزيابی گرديده، دلايل و مدارک مبنی بر اعمال نفوذ که منجر به نقض يا عدم رعايت قوانين و مقررات گرديده باشد به ملاحظه برسد.

## تجديد نظر

**مادهٔ پانزدهم:**

هرگاه دارندهٔ سند تحصيلی، به تصميم کميسيون قناعت ننمايد، با

کړي، د دلیلونو په وړاندې کولو سره کولای شي د اړوند تحصیلي سند په ارزونه کې دبیا کتنې غوښتنه وکړي. پدې صورت کې کمېسیون نوموړی سند د هغهٔ په حضورکې بیا ارزوي او پدې اړه دکمېسیون تصمیم قطعي او وروستنی دی.

## څلورم فصل

## متفرقه حکمونه

### د تحصیلي سند تزویر

**شپاړسمه ماده:**

که چېرې د تحصیلي سند تزویر د کمېسیون په واسطه تشخیص شي، د سند لرونکی د عدلي تعقیب په غرض اړوندو مراجعو ته معرفي کېږي.

### حق الخدمت

**اوولسمه ماده:**

(۱)د تحصیلي سندونو ارزونه د تحصیلي سند د لرونکي په واسطه د حق الخدمت د ورکړې په وړاندې، صورت مومي، د هغهٔ د ورکړې مقدار او ډول د جلا کړنلارې په واسطه تنظیمېږي.

ارایهٔ دلایل می تواندتجدید نظر در ارزیابی سند تحصیلی مربوط را تقاضا نماید. در این صورت کمیسیون سند مذکور را در حضور وی مجدداً ارزیابی نموده و تصمیم کمیسیون در موردقطعی و نهایی می باشد .

## فصل چهارم

## احکام متفرقه

### تزویر سند تحصیلی

**مادهٔ شانزدهم:**

هرگاه تزویر سند تحصیلی توسط کمیسیون تشخیص گردد ، دارندهٔ سند غرض تعقیب عدلی به مراجع مربوطه معرفی می گردد.

### حق الخدمت

**مادهٔ هفدهم:**

(۱)ارزیابی اسناد تحصیلی در برابر پرداخت حق الخدمت توسط دارندهٔ سند تحصیلی صورت می گیرد، مقدار وطرز پرداخت آن توسط طرزالعمل جداگانه تنظیم می گردد.

(۲) ددې مادې په (۱) فقره کــې درج شوی حق الخدمت د دولت د وارداتو په حساب کې بانک ته تحویلیږي.

## حق الحضور

**اتلسمه ماده:**

د کمېسیون رئیس او غــړي د مناســب حق الحضور مستحق دي چې اندازه يې د لوړو زده کړو وزارت په وړانــديز او د جمهوري رياست د مقــام د منظــوری پربنسټ ټاکل کېږي.

## انفاذ

**نولسمه ماده:**

دغه مقرره په رسمي جريده کې د خپرېدو له نېټې څخه نافذېږي.

(۲) حق الخدمت مندرج فقرهٔ (۱) این ماده به حساب واردات دولت تحویـــل بانک می گردد.

## حق الحضور

**مادهٔ هجدهم:**

رئیس واعضای کمیـــسیون مـــستحق حق الحضور مناسب می باشند که اندازهٔ آن به اساس پیشنهاد وزارت تحصیلات عالی ومنظوری مقام ریاست جمهـــوری تعیین می گردد .

## انفاذ

**مادهٔ نزدهم:**

این مقرره ازتاریخ نشر درجریدهٔ رسمی نافذ می گردد.

## د شپې لوړوزده کړو دمقررې د نافذېدو په هکله، دافغانستان اسلامي جمهوريت دوزيرانو دشوري مصوبه

ګڼه : (۳۵)

نېټه: ۱۳۹۰/۹/۱۴

د شپې‌لوړوزده کړو مقرره چې دافغانستان اسلامي جمهوريت دوزيرانو شوري د ۱۳۹۰/۹/۱۴ نېټې په غونډه کې ، په (۴) فصلونو او(۲۰) مادوکې تصويب شوې ده، منظوروم.

دغه مصوبه له مقررې سره يوځای، په رسمي جريده کې دخپرېدو له نېټې څخه نافذېږي .

حامد کرزی

دافغانستان د اسلامي

جمهوريت رئيس

## مصوبهٔ شورای وزيران جمهوری اسلامی افغانستان درمورد انفاذ مقررهٔ تحصيلات عالی شبانه

شماره :(۳۵)

تاريخ : ۱۳۹۰/۹/۱۴

مقررهٔ تحصيلات عالی شبانه را که درجلسهٔ مؤرخ ۱۳۹۰/۹/۱۴ شورای وزيران جمهوری اسلامی افغانستان به داخل (۴) فصل و(۲۰) ماده تصويب گرديده، منظور می دارم .

اين مصوبه همراه با مقرره از تاريخ نشر درجريدهٔ رسمی نافذ می گردد .

حامد کرزی

رئيس جمهوری اسلامی

افغانستان

## فهرست مندرجات

## مقررۀ تحصیلات عالی شبانه

### فصل اول

### احکام عمومی


| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادۀ اول: | منظور وضع | ۱۵ |
| مادۀ دوم: | اهداف | ۱۵ |

### فصل دوم

### شرایط وطرز تدویر برنامه های تحصیلات عالی شبانه

| | | |
|---|---|---|
| مادۀ سوم: | شرایط تدویر | ۱٦ |
| مادۀ چهارم: | تدویر برنامۀ تحصیلی | ۱۷ |

### فصل سوم

### شمولیت در برنامه های تحصیلات عالی شبانه

| | | |
|---|---|---|
| مادۀ پنجم: | نصاب تحصیلی | ۱۸ |
| مادۀ ششم: | کیفیت درسی | ۱۸ |
| مادۀ هفتم: | شمولیت | ۱۸ |
| مادۀ هشتم: | اشتراک در امتحان | ۱۹ |
| مادۀ نهم: | سن | ۲۰ |
| مادۀ دهم: | تدریس و امور عملی | ۲۰ |
| مادۀ یازدهم: | اعطای دیپلوم | ۲۱ |
| مادۀ دوازدهم: | مقررات و لوایح | ۲۱ |
| مادۀ سیزدهم: | تأمین همآهنگی | ۲۲ |

مادۀ چهاردهم: تسهیلات........................................۲۲
مادۀ پانزدهم: اخذ حق الشمول (داخله) وحق الاجرت (فیس)...۲۳
مادۀ شانزدهم: حق الزحمه ها....................................۲۴

## فصل چهارم

## احکام متقرقه

مادۀ هفدهم: نظات و بررسی......................................۲۵
مادۀ هجدهم: ارایه گزارش.........................................۲۵
مادۀ نزدهم: احکام تأدیبی..........................................۲۶
مادۀ بیستم: انفاذ.....................................................۲۶

# د شپې لوړو زده کړو

# مقرره

## لومړی فصل

## عمومي حکمونه

**د وضع کولو منظور**

**لومړۍ ماده:**

دغه مقرره د دولتي لوړو زده کړو د مؤسسو د شپې لوړو زده کړو په برنامو پورې د اړوندو چارو د تنظيم په منظور، وضع شوې ده.

**موخې**

**دوه يمه ماده:**

ددې مقررې موخې عبارت دي له:

۱- لوړو زده کړو ته د لاس رسۍ د زمينې پراخول.

۲- د غوښتونکو (متقاضيانو) د تحصيلي سويې او د شغلي وړتياوو د پرمختيا لوړول.

۳- کارکوونکو او د هېواد نورو اتباعو ته د لوړو زده کړو د زمينې برابرول.

۴- په شپې پوهنځيوکې د تحصيل د

# مقررۀ تحصيلات عالی

# شبانه

## فصل اول

## احکام عمومی

**منظور وضع**

**مادۀ اول:**

اين مقرره به منظورتنظيم امورمربوط به برنامه های تحصيلات عالی شبانۀ مؤسسات تحصيلات عالی دولتی، وضع گرديده است.

**اهداف**

**مادۀ دوم:**

اهداف اين مقرره عبارت اند از :

۱- توسعۀ زمينۀ دسترسی به تحصيلات عالی .

۲- ارتقای سويۀ تحصيلی و انکشاف مهارت های شغلی متقاضيان .

۳- فراهم آوری زمينۀ تحصيلات عالی برای کارکنان وسايراتباع کشور.

۴- آماده نمودن امکانات تحصيل

امکاناتو چمتو کول.

۵- د کارکوونکو د ظرفیت لوړول.

## دوه یم فصل

## د شپې لوړو زده کړو د برنامو د دابرېدو شرایط او ډول

**د دابرېدو شرایط**

**درېیمه ماده:**

دلوړو زده کړو مؤسسې په هغهٔ صورت کې د شپې لوړو زده کړو برنامې دابرولای شي چې د لاندې شرایطو لرونکې وي:

۱- لږترلږهٔ د ورځنیو لوړو زده کړو د څلوروکلونو ( د تحصیلي فراغت یوې دورې) سابقې درلودل.

۲- له (۲۵) تنوڅخه د زیات شمېر متقاضیانو درلودل.

۳- د استادانو او د استاد د همکارانو(اسیستانت) درلودل.

۴- د عملي کارونو په منظور د لابراتوارونو درلودل.

درپوهنځی های شبانه .

۵- بلند بردن ظرفیت کارکنان .

## فصل دوم

## شرایط وطرز تدویر برنامه های تحصیلات عالی شبانه

**شرایط تدویر**

**مادهٔ سوم:**

مؤسسات تحصیلات عالی درصورتی برنامه های تحصیلات عالی شبانه راتدویر نموده می توانند که واجد شرایط ذیل باشند :

۱- داشتن حد اقل چهارسال سابقهٔ تحصیلات عالی روزانه (یک دورهٔ فراغت تحصیلی ).

۲- داشتن متقاضیان بیشتر از (۲۵) نفر.

۳- داشتن استادان وهمکاران استاد (اسیستانت).

۴- داشتن لابراتوار ها به منظورکار های عملی .

## د تحصيلي برنامې داېرېدل

**څلورمه ماده:**

(۱) د شپې لوړو زده کړو د برنامې داېرېدل، د پوهنځي يا اړوند ديپارتمنت د علمي شوري په وړانديز، د مؤسسې د علمي شوري په تصويب، د اکاډميکو چارو د انسجام (سمون) د رياست په تأييد او د لوړو زده کړو د وزير په منظورۍ، صورت مومي.

(۲) د شپې زده کړو د برنامو د داېرېدو اړتيا، د مؤسسې د وضعيت او امکاناتو مطالعه، امنيتي او چاپېرياليز شرايط، د برنامې مخارج او لګښتونه او نورې بنسټيزې موضوعګانې ددې مقررې د (۱) ګڼې ضميمې دجدول مطابق، وړاندې کېږي.

(۳) د شپې لوړو زده کړو د برنامو د منلو پړاوونه او د منظورۍ اخيستل ددې مقررې په (۲) ګڼه ضميمه کې د درج شوي جدول مطابق، صورت مومي.

## تدوير برنامۀ تحصيلی

**مادۀ چهارم :**

(۱) تدوير برنامۀ تحصيلات عالی شبانه به پيشنهاد شورای علمی پوهنځی يا ديپارتمنت مربوط، تصويب شورای علمی مؤسسه، تأييد رياست انسجام امور اکادميک ومنظوری وزير تحصيلات عالی صورت می گيرد .

(۲) ضرورت تدوير برنامه های تحصيلی شبانه، مطالعۀ وضعيت وامکانات مؤسسه، شرايط امنيتی و محيطی، مخارج ومصارف برنامه وساير موضوعات اساسی طبق جدول ضميمۀ شماره (۱) اين مقرره ارايه می گردد .

(۳) مراحل قبولی وکسب منظوری برنامه های تحصيلات عالی شبانه طبق جدول مندرج ضميمۀ شماره (۲) اين مقرره صورت می گيرد .

## دریم فصل
## د شپې لوړو زده کړو په برناموکې شمولیت

**تحصیلي نصاب**

**پنځمه ماده:**

د شپې لوړو زده کړو تحصیلي نصاب، د مضمونونو او برنامو مفردات د ورځنیو لوړو زده کړو مطابق دي او د هرکریډت لپاره د تحصیل دوره (۱٦) درسي ساعته تنظیمېږي. د شپې لوړو زده کړو د درسي برنامو ساعتونه د ورځنیو لوړو زده کړو په شان وي.

**درسي کیفیت**

**شپږمه ماده:**

د شپې لوړو زده کړو په برناموکې درسي کیفیت د اکادمیکو معیارونو له په پام کې نیولو سره تأمینېږي.

**شمولیت**

**اوومه ماده:**

د شپې لوړو زده کړو په برناموکې شمولیت د لیاقت او وړتیا پربنسټ د

## فصل سوم
## شمولیت دربرنامه های تحصیلات عالی شبانه

**نصاب تحصیلی**

**مادهٔ پنجم:**

نصاب تحصیلی، مفردات مضامین و برنامه های تحصیلات عالی شبانه مطابق تحصیلات عالی روزانه بوده و دورهٔ تحصیل برای هرکریدت (۱٦) ساعت درسی تنظیم می گردد . ساعات درسی برنامه های تحصیلات عالی شبانه مانند تحصیلات عالی روزانه می باشد .

**کیفیت درسی**

**مادهٔ ششم:**

کیفیت درسی دربرنامه های تحصیلات عالی شبانه بارعایت معیار های اکادمیک تأمین می گردد .

**شمولیت**

**مادهٔ هفتم:**

شمولیت دربرنامه های تحصیلات عالی شبانه براساس لیاقت وشایستگی ازطریق

ازموينې له لارې صورت مومي.

## په ازموينه کې ګډون

**اتمه ماده:**

لاندې اشخاص کولای شي د شپې لوړو زده کړو د برنامو په اختصاصي ازموينه کې ګډون وکړي:

۱- د عمومي ښوونځيو د دوولسمو ټولګيو فارغان.

۲- د مسلکي لېسو فارغان، په هغه صورت کې چې د هغوی اختصاصي څانګې د لوړو زده کړو په مؤسسو کې شتون ولري.

۳- د مسلکي نيمه لوړو زده کړو (فوق بکلوريا) فارغان، د څوارلسم ټولګي د نمرو د اوسط د (۸۰٪) سلنې د لرلو او د هغې مؤسسې له تحصيلي نصاب سره چې له هغې څخه فارغ شوي وي د پام وړ رشتې يا پوهنځي له تحصيلي نصاب سره په مطابقت کې په درييم ټولګي کې شاملېږي.

۴- د نيمه لوړو مسلکي زده کړو (فوق بکلوريا) فارغان په هغهٔ صورت کې چې د

امتحان صورت می گیرد.

## اشتراک درامتحان

**مادۀ هشتم:**

اشخاص ذیل می توانند درامتحان اختصاصی برنامه های تحصیلات عالی شبانه اشتراک نمایند:

۱- فارغان صنوف دوازدهم مکاتب عمومی.

۲- فارغان لیسه های مسلکی، درصورتی که رشتۀ اختصاصی شان در مؤسسات تحصیلات عالی وجود داشته باشد.

۳- فارغان تحصیلات نیمه عالی مسلکی (فوق بکلوریا) در صورت داشتن (۸۰٪) فیصد اوسط نمرات صنف چهاردهم ومطابقت نصاب تحصیلی مؤسسه ایکه از آن فارغ شده اند با نصاب تحصیلی رشته یا پوهنځی مورد نظر شامل صنف سوم می گردند .

۴- فارغان تحصیلات نیمه عالی مسلکی (فوق بکلوریا) در صورتی که

هغې تحصيلي مؤسسې چې له هغې څخه فارغ شوي دي تحصيلي نصاب، د اړوند پوهنځي له تحصيلي نصاب سره لږترلږه (۵۰٪) سلنه مطابقت ولري، په دوه يم ټولګي کې شاملېږي.

**سن**

**نهمه ماده:**

د شپې زده کړو په برنامو کې شموليت، د سن تابع نه دی.

**تدريس او عملي چارې**

**لسمه ماده:**

(۱) د شپې لوړو زده کړو په برنامو کې تدريس، د اکاډميکو بستونو د غړو په واسطه صورت مومي.

(۲) د شپې زده کړو د برنامو عملي او ساحوي کارونه، د مسلکي مهارتونو لرونکو اشخاصو (تخنيکي همکار) په واسطه صورت مومي.

(۳) د لوړو زده کړو مؤسسه کولای شي د شپې زده کړو د برنامو د علمي او تدريسي چارو د پرمخ بيولو لپاره د اړتيا په صورت کې د نورو علمي – څېړنيزو

نصاب تحصيلی مؤسسه ايکه از آن فارغ شده اند با نصاب تحصيلی پوهنځی مربوط حداقل (۵۰٪) فيصد مطابقت داشته باشد شامل صنف دوم می گردند .

**سن**

**مادهٔ نهم:**

شموليت در برنامه های تحصيلی شبانه تابع سن نمی باشد.

**تدريس وامورعملی**

**مادهٔ دهم:**

(۱)تدريس در برنامه های تحصيلات عالی شبانه توسط اعضای بست های اکاديمک صورت می گيرد.

(۲) کارهای عملی وساحوی برنامه های تحصيلی شبانه توسط اشخاص دارای مهارت های مسلکی ( همکار تخنيکی ) صورت می گيرد .

(۳) مؤسسهٔ تحصيلات عالی می تواند درصورت ضرورت جهت پيشبرد امورعلمی وتدريسی برنامه های تحصيلی شبانه از اعضای کادر علمی ساير

مؤسسو د علمي كادر له غړو او مسلكي اشخاصوڅخه هم ګټه واخلي.

(۴) ددې مادې په (۱، ۲ او۳) فقرو كې درج شوو اشخاصو ته، په هغهٔ صورت كې چې له خپل قانوني مكلفيت څخه بهر تدريس وكړي د تدريس او د علمي او ساحوي كارونو د پرمخ بيولو په وړاندې حق الزحمه وركول كېږي.

## د ديپلوم وركول

**يوولسمه ماده:**

د شپې زده كړو د برنامومحصلانو ته د لېسانس ديپلوم چې د زده كړې دوره د لوړو زده كړو په مؤسسو كې په برياليتوب سره پايته رسوي، د هغو د تحصيلي څانګې مطابق وركول كېږي.

## مقررې او لوايح

**دوولسمه ماده:**

دشپې لوړو زده كړو د برنامو د محصلينو دشموليت، حاضرى، ازموينې، برياليتوب، ناكامي او انفكاك ډول د ورځنيو لوړو زده كړو په لوايحو كې له درج شوو معيارونو سره متناسب، صورت مومي.

مؤسسات علمی– تحقیقی و اشخاص مسلکی نیز استفاده نماید.

(۴) برای اشخاص مندرج فقره های (۱، ۲و ۳) این ماده در صورتی که خارج از مکلفیت قانونی شان تدریس نمایند دربرابر تدریس وپیشبرد کارهای علمی و ساحوی حق الزحمه پرداخته می شود.

## اعطای دیپلوم

**مادهٔ یازدهم:**

دیپلوم لسانس برای محصلان برنامه های تحصیلی شبانه که دورهٔ تحصیل را در مؤسسات تحصیلات عالی مؤفقانه به پایان می رسانند، مطابق رشتهٔ تحصیلی شان اعطاء می گردد.

## مقررات ولوایح

**مادهٔ دوازدهم:**

طرز شمولیت،حاضری، امتحان کامیابی، ناکامی و انفکاک محصلین برنامه های تحصیلات عالی شبانه متناسب با معیار های مندرج لوایح تحصیلات عالی روزانه صورت می گیرد.

## د هم غږۍ تأمينول

**ديارلسمه ماده:**

(۱) د شپې لوړو زده کړو په برنامو پورې د اړوندو چارو د هم غږۍ د تأمينولو او تنظيمولو په منظور، د مؤسسې رئيس او يا يو له مرستيالانوڅخه د عمومي مسئول په توګه او د اړوند پوهنځي رئيس يا له استادانوڅخه يو د شپې لوړو زده کړو د برنامې د مسئول په توګه ټاکل کېږي.

(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوي مسئولين د اړوندې مؤسسې په وړانديز، د اکاديميکو چارو د انسجام د رياست په تأييد او د لوړو زده کړو د وزير په منظورۍ، ټاکل کېږي.

## آسانتياوې

**څوارلسمه ماده:**

د لوړو زده کړو اړونده مؤسسه د شپې د برنامو لپاره ددرسي خونو،کتابتون، د کمپيوتر د مرکز د تنوير او تسخين او د عملي کارونو د آسانتياوو، د ساحوي کتنو لپاره د نقليه وسايطو د برابرولو، د ځښلو د روغتيايي اوبو د تأمينولو او د

## تأمين هم آهنگی

**مادۀ سيزدهم:**

(۱) به منظور تأمين هم آهنگی و تنظيم امور مربوط به برنامه های تحصيلات عالی شبانه، رئيس ويا يکی از معاونان مؤسسه بحيث مسئول عمومی و رئيس يا يکی از استادان پوهنځی مربوط به حيث مسئول برنامۀ تحصيلات عالی شبانه تعيين می گردد.

(۲) مسئولين مندرج فقرۀ (۱) اين ماده به پيشنهاد مؤسسۀ مربوطه، تأييد رياست انسجام اموراکادميک ومنظوری وزير تحصيلات عالی تعيين می گردد .

## تسهيلات

**مادۀ چهاردهم:**

مؤسسۀ تحصيلات عالی مربوطه مسئول فراهم نمودن تنوير وتسخين اتاق های درسی، کتابخانه، مرکز کمپيوتر و تسهيلات کارهای عملی، تهيۀ وسايط نقليه برای بازديد های ساحوی، تأمين آب آشاميدنی صحی وباز نگهداشتن

کانتین د خلاص ساتلو، مسئوله ده.

## د حق الشمول (داخلې) او حق الاجرت (فیس) اخیستل

**پنځلسمه ماده:**

(۱) د شپې لوړو زده کړو د برنامو د مخارجو او لګښتونو د تأمینولو په منظور، حق الشمول (داخله) او حق الاجرت (فیس) اخیستل کیږي.

(۲) د اجتماعي علومو د څانګو لپاره د یو سمستر تحصیلي حق الاجرت (فیس) پنځه زره (۵۰۰۰)افغانۍ او د طبیعي علومو د څانګو لپاره اته زره (۸۰۰۰)افغانۍ دی.

(۳) له محصل څخه د تحصیل د دورې په پیل کې یوائې د یو ځل لپاره پنځه زره (۵۰۰۰) افغانۍ حق الشمول، اخیستل کیږي.

(۴) ددې مادې په (۲ او۳) فقرو کې درج شوي مبالغ د دولت د وارداتو په حساب کې بانک ته تحویلیږي.

کانتین برای برنامه های شبانه می باشد.

## اخذ حق الشمول (داخله) وحق الاجرت(فیس)

**مادۀ پانزدهم:**

(۱) به منظور تأمین مخارج ومصارف برنامه های تحصیلات عالی شبانه حق الشمول(داخله) وحق الاجرت (فیس) اخذ می گردد.

(۲) حق الاجرت (فیس) تحصیلی یک سمستر برای رشته های علوم اجتماعی مبلغ پنج هزار (۵۰۰۰) افغانی وبرای رشته های علوم طبیعی مبلغ هشت هزار (۸۰۰۰) افغانی می باشد .

(۳) حق الشمول (داخله ) مبلغ پنج هزار (۵۰۰۰) افغانی صرف برای یک بار درشروع دورۀ تحصیل از محصل اخذ می گردد.

(۴) مبالغ مندرج فقره های (۲و۳) این ماده به حساب واردات دولت تحویل بانک می گردد .

## حق الزحمې

**شپاړسمه ماده:**

(۱) په یوه درسي ساعت کې د استادانو حق الزحمه پنځه سوه (۵۰۰) افغانۍ او د تخنیکي همکارانو د عملي کارونو د پرمخ بیولو په مقابل کې په یوهٔ درسي ساعت کې دوه سوه (۲۰۰) افغانۍ ده.

(۲) د مؤسسې د شپې د برنامو د عمومي مسئول او د پوهنځیو د برنامو د مسئولینو د یوې شپې حق الزحمه پنځه سوه (۵۰۰) افغانۍ دي.

(۳) عمومي مسئول او د شپې د برنامو مسئول نشي کولای په یوهٔ وخت کې حق الزحمه او حق التدریس واخلي.

(۴) د شپې زده کړو د برنامو د ملکي خدمتونوکارکوونکي، د اړوندو تقنیني سندونو مطابق د اضافه کارۍ مستحق دي.

## حق الزحمه ها

**مادهٔ شانزدهم:**

(۱)حق الزحمهٔ استادان فی ساعت درسی مبلغ پنج صد (۵۰۰) افغانی واز همکاران تخنیکی درمقابل پیشبرد کار های عملی فی ساعت درسی مبلغ دوصد (۲۰۰) افغانی می باشد .

(۲) حق الزحمهٔ مسئول عمومی برنامه های شبانهٔ مؤسسه ومسئولین برنامه های شبانهٔ پوهنځی ها، فی شب مبلغ پنج صد (۵۰۰) افغانی می باشد.

(۳) مسئول عمومی و مسئول برنامه های شبانه نمی توانند دریک وقت حق الزحمه وحق التدریس اخذ نمایند .

(۴) کارکنان خدمات ملکی برنامه های تحصیلی شبانه طبق اسناد تقنینی مربوط مستحق اضافه کاری می باشند.

## څلورم فصل
## متفرقه حکمونه

**څارنه او څېړنه**

**اووه لسمه ماده:**

د اړوندو پوهنځيو د شپې لوړو زده کړو د برنامې مسئول مکلف دی، د تدريس د چارو، د تحصيلي نصاب او د هغهٔ د مفرداتو له تطبيق څخه څارنه او څېړنه وکړي.

**د رپوټ وړاندې کول**

**اتلسمه ماده:**

(۱) د لوړو زده کړو مؤسسې مکلفې دي، د هر سمستر په پای کې د ديپارتمنتونو او د شپې پوهنځيو د شپې برنامو رپوټ، د لوړو زده کړو وزارت د اکاديميکو چارو د انسجام رياست ته وړاندې کړي.

(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې په درج شوي رپوټ کې د تحصيلي نصاب د تطبيق ډول، د هغهٔ کيفيت او معياريتوب، د اکاديمکي دسپلين رعايتول، د عملي کار د آسانتياوو برابرول، د استادانو

## فصل چهارم
## احکام متفرقه

**نظارت وبررسی**

**مادهٔ هفدهم:**

مسئول برنامهٔ تحصيلات عالی شبانه پوهنځی های مربوط مکلف است، از امور تدريس ، تطبيق نصاب تحصيلی و مفردات آن نظارت و بررسی نمايد.

**ارايهٔ گزارش**

**مادهٔ هجدهم:**

(۱) مؤسسات تحصيلات عالی مکلف اند در اخير هرسمستر گزارش برنامهٔ تحصيلی شبانهٔ ديپارتمنت ها و پوهنځی های شبانه را به رياست انسجام امور اکادميک وزارت تحصيلا ت عالی ارايه نمايند.

(۲) گزارش مندرج فقرهٔ (۱) اين ماده شامل نحوهٔ تطبيق نصاب تحصيلی ، کيفيت ومعياری بودن آن، مراعات دسپلين اکادميکی، فراهم بودن تسهيلات کار عملی، سويهٔ تحصيلی استادان،

تحصيلي سويه، د برنامې د عوايدو او لګښتونو بېلانس شامل دی.

## تأديبي حكمونه

**نولسمه ماده:**

كه چېرې د څارنې او څېړنې په پايله كې ثابته شي چې د شپې لوړو زده كړو په برناموكې د اكاډميكو او اداري معيارونو جدي نيمګړتياوې او له هغو څخه سرغړونې موجودې دي، د اړوند پوهنځي د شپې د تحصيلي برنامو مسئول او د شپې د تحصيلي برنامو عمومي مسئول په لاندې توګه تأديبېږي:

۱- لومړي ځل كې توصيه.

۲- دوه يم ځل ليكلی اخطار.

۳- دريم ځل، د شپې په تحصيلي برنامه كې له ورسپارل شوې دندې څخه ګوښه كېدل.

## انفاذ

**شلمه ماده:**

دغه مقرره په رسمي جريده كې د خپرېدو له نېټې څخه نافذېږي.

بيلانس عوايد ومصارف برنامه می باشد.

## احكام تأديبی

**مادۀ نزدهم:**

هرگاه درنتيجۀ نظارت و بررسی ثابت گردد كه دربرنامه های تحصيلات عالی شبانه نواقص وتخلفات جدی ازمعيار های اكادميک و اداری موجود است، مسئول برنامه های تحصيلی شبانۀ پوهنځی مربوطه و مسئول عمومی برنامه های تحصيلی شبانه ذيلاً تأديب می گردد:

۱-باراول توصيه .

۲- باردوم اخطاركتبی.

۳- بارسوم سبكدوشی از وظيفۀ محوله در برنامۀ تحصيلی شبانه .

## انفاذ

**مادۀ بيستم:**

اين مقرره از تاريخ نشر در جريدۀ رسمی نافذ می گردد.

**(۱) گڼه ضمیمه**

**د شپې لوړو زده کړو د برنامې د داېرېدو وړاندیز**

| گڼه | د وړاندیز اجزأ | د مطالبو شرح |
|---|---|---|
| ۱ | د نظر وړ څانگه | اړوند دیپارتمنت یا پوهنځی. |
| ۲ | د داېرېدو اړتیا | ۱ـــ د شپې لوړو زده کړو د برنامې فارغانو ته د اړتیا شرح.<br>۲ـــ برنامې ته د دوام امکان، په کال کې د متقاضیانو شمېر. |
| ۳ | د وضعیت کتنه | ۱- د ورځنیو لوړو زده کړو سابقه.<br>۲- د مجهزو او معیاري ټولگیو شتون.<br>۳- د عملي کارونو د امکاناتو میسروالی.<br>۴- په نظر وړ څانگه کې د تدریس د شرایطو وړ استادانو لست، د هغوی د تحصیلي سويې اوعلمي څانگې په تفکیک سره.<br>۵- په نظر وړ څانگه کې د لارښوونو او عملي کارونو د پرمخ بیولو لپاره د تخنیکي همکارانو لست، د هغوی د تحصیلي سويې او کاري تجربې په تفکیک سره.<br>٦- د آسانتیاوو د شتون، کتابتون، انترنت، د کمپیوتر مرکز او د تحصیلي برنامې په ساعتونوکې هغو ته د لاس رسی د تأمینولو شرح. |
| ۴ | اړتیاوې | ۱- د حق الزحمې او حق التدریس له لارې په کال کې د برنامې مخارج.<br>۲- د تحصیلي حق الاجرت (فیس) او حق الشمول (داخلې) له لارې په کال کې متوقعه عواید.<br>۳- په افغانی باندې په کال کې له دولتي بودجې څخه د تمویلولو اړتیا.<br>۴- د اړوندې مؤسسې په تشخیص نورې اړتیاوې. |

## (٢) گڼه ضميمه

## د شپې د برنامې د منلو او د منظورۍ د اخيستلو پړاوونه

| گڼه | د منلو پړاوونه | گڼه | نوم | ولد | علمي رتبه | د تحصيل درجه | تحصيلي ځانگه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ١ | د وړانديز کوونکي درې نفري هيئت بشپړه پېژندنه | ١ | | | | | |
| | | ٢ | | | | | |
| | | ٣ | | | | | |
| ٢ | د اړوند ديپارتمنت تأييد | د تصويب گڼه او نېټه<br>د تصويب متن | | | | د غړو مجموع | |
| | | | | | | حاضر غړي | |
| | | | | | | موافقې رايې | |
| | | | | | | مخالفې رايې | |
| | | | | | | مستنکفې رايې | |
| ٣ | د پوهنځي د علمي شورې تأييد | د تصويب گڼه او نېټه<br>د تصويب متن | | | | د غړو مجموع | |
| | | | | | | حاضر غړي | |
| | | | | | | موافقې رايې | |
| | | | | | | مخالفې رايې | |
| | | | | | | مستنکفې رايې | |
| ٤ | د پوهنځي د رئيس تأييد | د رئيس پېژندنه:نوم | ولد | علمي رتبه | | د پوهنځي لاسليک او مهر | |
| | | د موافقې نېټه او ډول: | | | | | |
| ٥ | د مؤسسې د علمي شورې تأييد | د تصويب گڼه او نېټه<br>د تصويب متن | | | | د غړو مجموع | |
| | | | | | | حاضر غړي | |
| | | | | | | موافقې رايې | |
| | | | | | | مخالفې رايې | |
| | | | | | | مستنکفې رايې | |
| ٦ | د مؤسسې د رئيس تأييد | د رئيس پېژندنه:نوم | ولد | علمي رتبه | | د مؤسسې لاسليک او مهر | |
| | | د موافقې نېټه او ډول: | | | | | |
| ٧ | د اداري شورې موافقه | د تصويب گڼه او نېټه<br>د تصويب متن | | | | د غړو مجموع | |
| | | | | | | حاضر غړي | |
| | | | | | | موافقې رايې | |
| | | | | | | مخالفې رايې | |
| | | | | | | مستنکفې رايې | |
| ٨ | د اکاډميکو چارو د انسجام رياست د علمي بورډ تأييد | د رئيس پېژندنه:نوم | ولد | علمي رتبه | | لاسليک او مهر | |
| | | د موافقې نېټه او ډول: | | | | | |
| ٩ | د لوړو زده کړو د وزير منظوري | منظوروونکی مقام<br>د حکم گڼه، نېټه او متن | | | | | |

**شماره (۱)**

**پیشنهاد تدویر برنامه تحصیلات عالی شبانه**

| شماره | اجزای پیشنهاد | شرح مطالب |
|---|---|---|
| ۱ | رشتهٔ مورد نظر | دیپارتمنت یا پوهنځی مربوط . |
| ۲ | ضرورت تدویر | ۱- شرح نیازمندی به فارغان برنامهٔ تحصیلات عالی شبانه .<br>۲ – امکان دوام به برنامه ، تعداد متقاضیان در سال . |
| ۳ | مطالعهٔ وضعیت | ۱- سابقهٔ تحصیلات عالی روزانه .<br>۲- موجودیت صنوف مجهزو معیاری .<br>۳- میسر بودن امکانات کارهای عملی .<br>۴- لست استادان واجد شرایط تدریس با تفکیک سویهٔ تحصیلی ورشته علمی شان در رشتهٔ مورد نظر .<br>۵- لست همکاران تخنیکی برای رهنمایی وپیشبردکارهای عملی با تفکیک سویهٔ تحصیلی وتجربهٔ کاری شان در رشتهٔ مورد نظر .<br>٦- شرح موجودیت تسهیلات ، کتابخانه ، انترنت ، مرکز کمپیوتر وتأمین دسترسی به آن در ساعات برنامه تحصیلی . |
| ۴ | نیازمندی | ۱- مخارج برنامه در سال ازطریق حق الزحمه و حق التدریس .<br>۲- عواید متوقعه در سال ازطریق حق الاجرت (فیس ) تحصیلی و حق الشمول (داخله ).<br>۳- ضرورت تمویل از بودجهٔ دولتی به افغانی در سال .<br>۴- سایر نیازمندی ها به تشخیص مؤسسهٔ مربوط. |

## ضمیمهٔ شماره (۲)

## مراحل قبولی وکسب منظوری برنامهٔ شبانه

| شماره | مراحل قبولی | شماره | نام | ولد | رتبهٔ علمی | درجهٔ تحصیل | رشتهٔ تحصیلی |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | شهرت مکمل هئیت سه نفری تهیه کنندهٔ پیشنهاد | ۱ | | | | | |
| | | ۲ | | | | | |
| | | ۳ | | | | | |
| ۲ | تأیید دیپارتمنت مربوط | شماره وتاریخ تصویب<br>متن تصویب | | | | مجموع اعضا | |
| | | | | | | اعضای حاضر | |
| | | | | | | آرای موافق | |
| | | | | | | آرای مخالف | |
| | | | | | | آرای مستنکف | |
| ۳ | تأیید شورای علمی پوهنځی | شماره وتاریخ تصویب<br>متن تصویب | | | | مجموع اعضا | |
| | | | | | | اعضای حاضر | |
| | | | | | | آرای موافق | |
| | | | | | | آرای مخالف | |
| | | | | | | آرای مستنکف | |
| ۴ | تأیید رئیس پوهنځی | شهرت رئیس :اسم ولد رتبهٔ علمی<br>تاریخ وصورت موافقه : | | | | امضاء ومهر پوهنځی | |
| ۵ | تأیید شورای علمی مؤسسه | شماره وتاریخ تصویب<br>متن تصویب | | | | مجموع اعضا | |
| | | | | | | اعضای حاضر | |
| | | | | | | آرای موافق | |
| | | | | | | آرای مخالف | |
| | | | | | | آرای مستنکف | |
| ۶ | تأیید رئیس مؤسسه | شهرت رئیس :اسم ولد رتبهٔ علمی<br>تاریخ وصورت موافقه: | | | | امضاء ومهر مؤسسه | |
| ۷ | موافقهٔ شورای اداری | شماره وتاریخ تصویب<br>متن تصویب | | | | مجموع اعضا | |
| | | | | | | اعضای حاضر | |
| | | | | | | آرای موافق | |
| | | | | | | آرای مخالف | |
| | | | | | | آرای مستنکف | |
| ۸ | تأیید بورد علمی ریاست انسجام امور اکادمیک | شهرت رئیس :اسم ولد رتبهٔ علمی<br>تاریخ وصورت موافقه: | | | | امضاء ومهر | |
| ۹ | منظوری وزیر تحصیلات عالی | مقام منظور کننده<br>شماره، تاریخ و متن حکم: | | | | | |

## اشتراک سالانه :

در مرکز وولایات : (۹۰۰) افغـــــــانی

برای مامورین دولت : با (۲۵) فیصد تخفیف

برای متعلمـــین ومحصـــلین با ارائه تصدیق ،نصف قیمت

برای کتاب فروشی هابا ۱۰ فیصد تخفیف ازقیمت روی

جلدخارج از کشور : (۲۰۰) دالر امریکائی .

ISLAMIC REPUBLIC

OF

AFGHANISTAN

MINISTRY OF JUSTICE

# OFFICIAL
# GAZETTE

Exrtaordinary Issue

- Regulation on Assessment of Educational Documents
- Regulation on Night Shift Higher Education

**Date: 7th DECEMER .2011**

**ISSUE NO :(1066)**